**د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**تیلیفون:** ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱ – ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱
**بریښنالیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب سایټ:** www.unama-afg.org

## افغانستان: د ۲۰۰۸ کال کلنی راپور په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو ساتنه

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) په ۲۰۰۸ کال کې د افغانستان په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو د وضعي په باب خپل راپور نن ورځ خپور کړي. دغه راپور چې د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا جوړ شوي د هغو حوادثو یوه خپلواکه او بې پلوه څارنه او تحقیق دی چې تر جګړې لاندې سیمو کې د ملکي کسانو د مرګ ژوبلې کیسي بیانوي.

دغه ډول تحلیل غواړي موجوده تمایلات او میلانونه څرګند کړي او دغه راز هغه اقدامات په ډاګه کوي چې د ملکي خلکو د ژوند د ژغورنې او د هغوي د ساتنې لپاره ضروري بریښی . یوناما په ۲۰۰۸ کال کې ټول ۲۱۱۸ ملکی وګړو مرګ ژوبله ثبت کړی دی. د ملکي وګړو مرګ ژوبلی په شمیر کې زیاتوالی، په سلو کې ۴۰ ښودلی دی څکه په ۲۰۰۷م کال کې دغه شمیره ۱۵۲۳ تنه ثبت شوې وه. دغه زیاتوالی د ملګرو ملتونو لپاره د اندیښنې وړ ده. دغه خوا شینوونکې پیښې د دې غوښتنه کوي، چې د جګړې ټولې خواوې باید ټول هغه ضروري اقدامات ونیسي چې د ملکي خلکو د وژنې مخنیوی په کې وشي.

ډیر ملکي وګړو مرګ ژوبلی ۸۷۲ (۴۱ ٪) د هیواد په جنوب کې رامنځته شوی دي، چې د دغې سیمې په زیاتو ولایتونو کې درنې جګړې شوي دي. د ملکي وګړو مرګ ژوبلی زیاته شمیره همدارنګه په جنوب ختیځ کې ثبت شوې ده (٪۲۰)، په ختیځ کې (۱۳ ٪) په مرکزې سیمو کې (۱۳ ٪) او د هیواد په لویدیځو سیمو کې (۹ ٪). په سلو کې پنځه پنځوس (۱۱۶۰) د عمومي مړینو شمیره د دولتی ضد عناصرو له خوا ترسره شوې ده او ۸۲۸ (۳۹ ٪) مړینې د افغان امنیتی ځواکونو او نړیوالو وسله والو ځواکونو له خوا چې په عمده توګه حکومت پلوي ځواکونه دي، رامنځته شوې دي.

وسله وال مخالفین د ۱۱۶۰ ملکي وژنو مسوول دي، چې دا د ۲۰۰۷ کال د شمیرو په پرتله په سلو کې ۶۵ زیاتوالی جوتوي، د ۸۵ ٪ هغو کسانو له منځه چې د حکومتي ضد عناصرو له خوا وژل شوي دي د ځان مرګو بریدونو او چاودیدونکو موادو د ځای پر ځای کیدو په صورت کې یې ژوند له لاسه وکړې دی.

په ۲۰۰۸ کال کې په هغو بریدونو کې چې د وسله والو مخالفیونو له خوا د اوسیدنې د کڼې ګوڼې او په نورو داسې ځایونو کې ترسره شوي دي، یو توپیر دا دی چې په ښکاره ډول ډیر زیات تاوان چې ملکي وګړو ته رسیدلی دی له پامه غورځیدلی دی. د دولت ضد عناصر همدارنګه د ویرې او ډار اچولو پر کمپاین باندې زور راوړي چې په کې د هغو کسانو د پخپل سر اعدامونه شامل دي چې د دوي لخوا د دولت او د هغه د پلویانو سره اړوند او ملاتړ کوونکي بلل شوی دي.

په قربانیانو کې ښوونکي، زده کوونکي، ډاکټران، روغتیایې کار کوونکي، قومي مشران، د حکومت ملکي کارکوونکي، د پولیسو او پوځ پخوانی پرسونل او د عامه ګټو د بیارغونې په کارونو کې کارګرانو برخه درلودله. ښوونځي، په خاص ډول د نجونو ښوونځي د زیاتو بریدونو لاندې راغلي، چې په پایله کې یې زرګونه زده کوونکي، په ځانګړي ډول نجونې د هغو د ښوونې او روزنې له حق څخه محرومې کړې دي.

په ۲۰۰۸ کال کي هوايي بريدونو زياته سلنه يعني ۶۴ ٪ د ملکي کسانو د مرگ ده چي حکومت پلوه ځواکونو ته منسوب دی او مسووليت يی لري. د شپي له خوا يرغلونه چي کله نا کله د ملکي کسانو د مرگ او ټپی کيدو باعث گرځي، د زياتي انديښني او خپگان وړ دي.

د ۲۰۰۸ کال په اوږدو کي د نا دولتی انجوگانو نږدي ۳۸ کسان وژل شوی دي. دا شمير د ۲۰۰۷ کال په پرتله دوه برابره زيات دی او ۱٤۷ نور هم اختطاف شوی دی. د ۲۰۰۸ کال تر پايه، بشري فضاء ډيره تنگه شوې ده. د هيواد زياتره جنوبي، جنوب ختيځی، جنوب لويديځی، ختيځی او مرکزي سيمي د بشري عملياتو لپاره د زيات خطر، او د دښمنی د چاپيريال د سيمو په حيث پيژندل شوې دي.

لکه څنگه چي شخړې پر زياتيدو شي، ملکي کسان د بريدونو تر فشار لاندې راځي. د ملکي کسانو د مخ پر زياتيدونکی مړينو سربيره، زيانمنونکي ډلي هم د هغوی د حياتي جوړښتونو د خرابيدو، دعايداتو او فرصتونو د تر لاسه کولو د له منځه وړلو، او اساسي خدمتونو ته د نه لاس رسي لامل گرځی او هغوی د ستونزو سره مخا مخ کوي.

ملگري ملتونه په پوځي شخړو کي د ملکي کسانو د زياتو تلفاتو په هکله ډير انديښمن دي. په داسي حال کي چي حکومت پلوه ځواکونو په خپلو تاکتيکي لارښوونو کي يو شمير بدلونونه رامنځ ته کړي دي، د دې اړتيا ليدل کيږي چي د بی گناه ملکي کسانو د ژوند د ژغورلو په برخه کي هم ورته هڅي ترسره شي. افغانان په رښتيا سره د ملکي کسانو د ژغورلو لپاره د زياتي حساب ورکووني او احتياطي تدبيرونو غوښتنه کوي.

ملگري ملتونه د شخړو په ټولو ښکيلو اړخونو، د افغانستان په حکومت او نړيواله ټولنه غږ کوي چي د نړيوال بشري قانون او نړيوالو بشري حقونو د قانون د ژمنو څخه د ډاډ او رعايت کولو په موخه په عمل لاس پورې کړی او په ملکي کسانو باندې د شخړو د اغيزو کچه راټيټه کړي.

**د اديټرانو لپاره نوټ:**

- ددې راپور انگليسی مکمله کاپی تاسو په www.unama-afg.org ويب پاڼه کي موندلي شی.
- ددې رپورټ خلاصه په دری او پښتو ژبه هم په www.unama-afg.org ويب پاڼه کي موندلي شی.
- ژورنالستان کولی شی د ملگري ملتونو د بشری حقونو د عالی کميشنری کلني راپور چي د بشری حقونو حالت په افغانستان کي بيانوی او په ۱۶ فبروری ۲۰۰۹ کال کي خپور شوی ده. تاسو کولای شی دا راپور ددې ويب پاڼي څخه لاس ته راوړی. http://www2.ohchr.org/english/bodies/hrcouncil/docs/10session/A.HRC.10.23pdf
- د لا زياتو معلوماتو لپاره مطبوعات کولای شی نيلاب مبارز سره اړيکه ونيسی. ( دری، پښتو او انگليسی) ۰۷۹۷۶۶۲۵۰۳ او يا دن مکنارتن سره اړيکه ونيسی ( انگليسی) ۰۷۰۰۲۵۰۳۵۸